دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## دحجاجو،معتمرينواو زائرينودچارودتنظيم مقرره

## مقررهٔ تنظيم امورحجاج، معتمرين وزائرين


دخپرېدونېټه: د١٣٩٦هـ.ش كال د وري دمياشتې (٥)

پرله پسې نمبر:(١٢٥٣)

تاریخ نشر: (٥) حمل سال ١٣٩٦ هـ . ش

نمبر مسلسل: (١٢٥٣)



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت(به اساس قرارداد): (۱۲/۶۰)افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۴۲)صفحه

مطبعه: پرویـــــز

آدرس:وزارت عـــدلیه،ریاست نشرات و ارتباطعـــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## د حجاجو، معتمرينو او زائرينو دچارو د تنظيم د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس

## حکم

د حکم ګڼه: (۴۲۲۸)

نېټه: ۱۳۹۵/۱۲/۱۱

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د حجاجو، معتمرينو او زائرينو د چارو د تنظيم مقرره چې د خپلې ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۱) ګڼه غونډه کې په (۴) فصلونو او (۲۸) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم د کابينې له مصوبې او لــه يادې شوې مقررې سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## حکم

## رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ مقررۀ تنظيم امور حجاج، معتمرين و زائرين

شمارۀ حکم: (۴۲۲۸)

تاريخ: ۱۳۹۵/۱۲/۱۱

**مادۀ اول:**

کابينه جمهوری اسلامی افغانستان مقررۀ تنظيم امور حجاج، متعمرين و زائرين را که در جلسۀ شماره (۲۱) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۰/۱۵ خويش بداخل(۴) فصل و (۲۸) ماده تصويب نموده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين حکم همراه با مصوبۀ کابينه و مقررۀ مذکور در جريدۀ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## د حجاجو، معتمرينو او زائرينو د چارو د تنظيم د مقررې د تصويب په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه: (۲۱)

نېټه: ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې د حجاجو، معتمرينو او زائرينو د چارو د تنظيم د مقررې طرح د ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۵ نېټې په (۲۱) ګڼه غونډه کې په (۴) فصلونو او (۲۸) مادو په د ننه کې تصويب کړه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبهٔ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تصويب مقررهٔ تنظيم امور حجاج، معتمرين و زائرين

شماره: (۲۱)

تاريخ: ۱۳۹۵/۱۰/۱۵

کابينه جمهوری اسلامی افغانستان طرح مقررهٔ تنظيم امور حجاج، معتمرين و زائرين را در جلسهٔ شماره (۲۱) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۰/۱۵ به داخل (۴) فصل و (۲۸) ماده تصويب نموده.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

# فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم امورحجاج، معتمرین و زائرین

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | منظور وضع | ۵ |
| مادۀ دوم: | اصطلاحات | ۵ |
| مادۀ سوم: | تنظیم امور حج، عمره و زیارات | ٦ |
| مادۀ چهارم: | مرجع تطبیق | ۷ |
| مادۀ پنجم: | ایجاد کمیسیون داخلی و کمیته های کاری | ۷ |
| مادۀ ششم: | کمیتۀ حج، عمره و زیارات | ۸ |
| مادۀ هفتم: | نام اختصاری | ۱۰ |


## فصل دوم

## حج، عمره و زیارات


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هشتم: | شرایط عازمین حج، عمره و زیارات | ۱۰ |
| مادۀ نهم: | ثبت نام حج | ۱۲ |
| مادۀ دهم: | تثبیت نوبت | ۱۳ |
| مادۀ یازدهم: | پول مصارف خدماتی | ۱۴ |
| مادۀ دوازدهم: | تعیین و توظیف کمیته های کاری، هیئت بعثه، ناظمین، مرشدین و مساعدین | ۱٦ |




created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## فصل سوم

## وظایف و مکلفیت ها

مادۀ سیزدهم: وظایف و مکلفیت های وزارت..........................۱۷
مادۀ چهاردهم: وظایف و مکلفیت های وزارت امور خارجه.............۲۲
مادۀ پانزدهم: وظایف و مکلفیت های وزارت صحت عامه...........۲۵
مادۀ شانزدهم: وظایف و مکلفیت های وزارت امور داخله.............۲٦
مادۀ هفدهم: وظایف و مکلفیت های وزارت ترانسپورت.............۲۸
مادۀ هجدهم: وظایف و مکلفیت های اداره هوانوردی ملکی..........۲۹
مادۀ نزدهم: مکلفیت های شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی...۳۰

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

مادۀ بیستم: عمره و زیارات.........................................۳۲
مادۀ بیست ویکم: تحویلی پول مصارف خدماتی حج......................۳۲
مادۀ بیست دوم: تحویلی پول مصارف خدماتی معتمرین و زائرین..........۳۳
مادۀ بیست وسوم: صلاحیت برداشت و مصارف پول خدماتی.............۳۴
مادۀ بیست وچهارم: عقد قرار دادها.................................۳٦
مادۀ بیست وپنجم: حمل و تورید اشیا و اجناس.............................۳٦
مادۀ بیست وششم: بازماندن از سفر و یا فوت در جریان آن.................۳۷
مادۀ بیست وهفتم: وضع لوایح و طرزالعمل ها...........................۳۷
مادۀ بیست وهشتم: انفاذ................................................۳۸



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## د حجاجو، معتمرينو او زائرينو د چارو د تنظيم مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د اسلام د مبين دين د حکمونو او ارزښتونو له په پام کې نيولو سره، د لاندې موخو د تحقق په منظور وضع شوېده:

۱- حجاجو ته د ښو او پر وخت خدمتونو وړاندې کول.

۲- د معتمرينو او د زائرينو لپاره د مناسبې زمينې برابرول.

۳- د حج په چارو کې د وزارتونو او اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول.

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

پدې مقرره کې لاندينې اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

## مقررهٔ تنظيم امورحجاج، معتمرين و زائرين

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظور وضع**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره با نظرداشت احکام و ارزشهای دين مبين اسلام به منظور تحقق اهداف ذيل، وضع گرديده است:

۱- عرضهٔ خدمات بهتر و به موقع به حجاج.

۲- فراهم نمودن زمينه مناسب برای معتمرين و زائرين.

۳- ايجاد هم آهنگی ميان وزارت ها و ادارات ذيربط در امور حج.

**اصطلاحات**

**مادهٔ دوم:**

اصطلاحات آتی در اين مقرره مفاهيم ذيل را افاده می نمايد:



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

۱- فرضي حج: په خاص زمان او مکان کې د مخصوصو مناسکو پرځای کول دي چې د مالي استطاعت او بدني توانمنۍ(توان) پر لرونکي مکلف شخص، په ټول عمر کې د شريعت له حکمونو سره سم يوځل فرض دی.

۲- نفلي حج: د حج د مناسکو پرځای کول دي، پداسې حال کې چې شخص فرضي حج پرځای کړی وي، د دوه يم ځل لپاره يا له هغهٔ څخه زيات حج وکړي.

۳- عمره: د مخصوصو مناسکو د سرته رسولو لپاره د مسجدالحرام زيارت دی چې پر وخت مقيد نه دی.

۴- زائر: هغه شخص دی چې د کربلا د زيارت او نورو عتباتو په غرض، له هېواد څخه بهر ته سفر کوي.

<u>د حج، عمرې او زيارتونو د چارو تنظيم</u>

دريمه ماده:

(۱) د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د هېواد په دننه او بهر کې په حج، عمرې

۱- حج فرضی: ادای مناسک مخصوص در زمان و مکان خاص است که بر شخص مکلف، دارای استطاعت مالی و توانایی بدنی انجام آن در تمام عمر مطابق احکام شریعت یک بار، فرض می باشد.

۲- حج نفلی: ادای مناسک حج است درحالی که شخص حج فرضی را ادا نموده، برای باردوم یا بیشتراز آن حج نماید.

۳- عمره: زیارت مسجد الحرام جهت انجام مناسک مخصوص است که مقید به وقت نمی باشد.

۴- زائر: شخصی است که غرض زیارت کربلا و سائر عتبات به خارج کشور سفر می نماید.

<u>تنظیم امورحج، عمره و زیارات</u>

مادهٔ سوم:

(۱) وزارت ارشاد، حج و اوقاف امور مربوط به حج، عمره و زیارات را در



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

او زیارتونو پورې اړوندې چارې تنظیموي.

(۲) د ارشاد، حج او اوقافو وزارت کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې چارې یا د هغو یوه برخه د خصوصي سیاحتي(ګرځندوی) او زیارتي شرکتونو له لارې عملي کړي.

(۳) د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره په همغږۍ کې په اړونده برخه کې د زیارتي او سیاحتي شرکتونو له فعالیت څخه څارنه کوي.

## د تطبیق مرجع

**څلورمه ماده:**

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، ددې مقررې د حکمونو د تطبیق مسئول دی.

## د کورني کمېسیون او کاري کمیټو رامنځته کول

**پنځمه ماده:**

(۱) د فرضي حج د چارو د تنظیم، د

داخل و خارج کشور تنظیم می نماید.

(۲) وزارت ارشاد، حج و اوقاف می تواند امور مندرج فقرۀ (۱) این ماده یا بخشی از آن را ازطریق شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی طبق طرز العمل مربوط عملی نماید.

(۳) وزارت ارشاد، حج واوقاف در هماهنگی با وزارت اطلاعات و فرهنگ از فعالیت های شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی در عرصۀ مربوط نظارت می نماید.

## مرجع تطبیق

**مادۀ چهارم:**

وزارت ارشاد، حج واوقاف مسئول تطبیق احکام این مقرره می باشد.

## ایجاد کمیسیون داخلی و کمیته های کاری

**مادۀ پنجم:**

(۱) به منظور تنظیم امورحج فرضی،



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

یوهٔ تن حاجي، معتمر او زائر د ټولـو لګښتونو د تثبیت او ټاکلو او د کاري کمیټو له فعالیت څخه د څـارنې پـه منظور، کورنی کمېسـیون د ارشـاد، حج او اوقافو د وزارت لخوا هر کال جوړېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی کمېسیون حجاجو، معتمرینــو او زائرینو ته د مناسبو اسانتیاوو د برابرولو په منظور، کاري کمیټې په مرکــز او فرعي کمیټې په ولایتونو کې رامنځتــه کوي.

<u>د حج، عمرې او زیارتونو کمیټه</u>

شپږمه ماده:

(۱) د فرضي حج، عمره او زیارتونو د چارو د ښه تنظیم او د ادارو تـرمنځ د سمون او همغږۍ په منظور، د جمهور رئیس د مرستیال تر ریاسـت لانـدې کمیټه په لاندې جوړښت (ترکیب) سره رامنځته کېږي:

۱- د ارشاد، حج او اوقافو وزیــر د مرستیال په توګه.

تثبیت و تعیین مصارف مجموعی فی نفر حاجی، معتمر و زائـر و نظـارت از فعالیت کمیته های کاری، کمیسـیون داخلی از طرف وزارت ارشاد، حج و اوقــاف همـــه ســاله ایجــاد می گردد.

(۲) کمیسیون مندرج فقرهٔ (۱) ایــن ماده به منظور فراهم آوری تســهیلات مناسب بــرای حجــاج، معتمــرین و زائرین، کمیته های کاری را درمرکز و کمیته های فرعی را در ولایات ایجاد می نماید.

<u>کمیتهٔ حج، عمره وزیارات</u>

مادهٔ ششم:

(۱) به منظور تنظیم بهتر امور حــج، عمره و زیارات و انسجام و هماهنگی میان ادارات، کمیتهٔ تحـت ریاسـت معـــاون رئـــیس جمهــــور بــــه ترکیـــب ذیـــل ایجـــاد می گردد:

۱- وزیر ارشاد، حج و اوقاف به حیث معاون.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

۲- د بهرنیو چارو وزیر د غړي په توګه.

۳- د ماليې وزیر د غړي په توګه.

۴- د عدليې وزیر د غړي په توګه.

۵- د کورنیو چارو وزیر د غړي په توګه.

٦- د ترانسپورټ وزیر د غـړي په توګه.

۷- د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر د غړي په توګه.

۸- د عامې روغتیا وزیر دغـړي په توګه.

۹- د ملکي هوايي چلند د اداري رئیس د غړي په توګه.

۱۰- د ملي امنيت لوی رئیس د غړي په توګه.

۱۱- د حج او زیارتونو رئیس د منشي په توګه.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې کميټې د فعالیت ډول په هغې کړنلارې کې چې د هغې کميټې له لورې تصويبېږي، تنظيمېږي.

۲- وزیر امور خارجه به حيث عضو.

۳- وزیر مالیه به حيث عضو.

۴- وزیر عدلیه به حيث عضو.

۵- وزیر امور داخله به حيث عضو.

٦- وزیر ترانسپورت به حيث عضو.

۷- وزیر اطلاعات و فرهنگ به حيث عضو.

۸- وزیر صحت عامه به حيث عضو.

۹- رئیس ادارهٔ هوانوردی ملکی به حيث عضو.

۱۰- رئیس عمومی امنیت ملی به حيث عضو.

۱۱- رئیس حج و زیارات به حيث منشی.

(۲) طرز فعالیت کمیتهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در طرزالعملی که از طرف آن کمیته تصویب می شود، تنظیم می گردد.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

**لنډ (اختصاري) نوم**

**اوومه ماده:**

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت لــدې وروسته پدې مقرره کې د وزارت په نوم یادېږي.

## دوه یم فصل

## حج، عمره او زیارتونه

**د حج، عمرې او زیارتونو د تلونکو شرایط**

**اتمه ماده:**

(۱) د بیت الله شریف د حج متقاضیان د پاسپورت په قانون کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لانــدې شــرایطو لرونکي هم وي:

۱– د هېواد په دننه او بهر کې د ثابتو او متفرقــه لګښــتونو د ورکـــړې توانمني.

۲– له جسمي او رواني روغتیا څخــه برخمنتوب او فزیکي توانمني لرل. خو دا چې یو له خپلوانو څخه یې د ژمنــې په سپارلو ســره د هغــه ملګریتــوب

**نام اختصاری**

**مادهٔ هفتم:**

وزارت ارشاد، حج و اوقاف منبعد در ایــن مقـــرره بنــام وزارت یـــاد می گردد.

## فصل دوم

## حج، عمره و زیارات

**شرایط عازمین حــج، عمــره و زیارات**

**مادهٔ هشتم:**

(۱) متقاضیان حج بیــت الله شــریف علاوه برداشتن شرایط مندرج قــانون پاسپورت، واجد شــرایط ذیــل نیــز می باشند:

۱– داشتن توانائی پرداخت مصــارف ثابت و متفرقه در داخــل و خــارج کشور.

۲– برخـــوردار بــودن ازصـــحت جسمی و داشتن توانائی فزیکی، مگر اینکــه یکــی از اقــاربش باســپردن تعهـــــــد او را همراهـــــــی



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

(همراهي) وکړي.

۳- د مخه يې حج کړی نه وي، د هغې ښځې شرعي محرم چې فرضي حج يې اداء کړی نه وي او بدل حـج لـدې حکم څخه مستثني دی.

۴- له وروستي (اخري)حج څخه چې د اړوند ولايت د ونډې له سهميې سـره سم يې سرته رسولی دی لږ تر لږهٔ ۱۰ کاله تېر شوي وي.

۵- له هېواده ممنوع الخـروج يـا د سعودي عربستان په هېواد کې ممنوع الدخول نه وي.

(۲) د شرعي محرم نه لرونکې ښـځې چې ۴۵ کلنی يا له هغه څخه زيات سن يې بشپړ کړی وي، د ښځو پـه يـوه مجمع ( د ښځو په ډله) کې حج تـه لېږل کېدای شي.

(۳) د عمـــــرې او زيـــــارتونو متقاضيان(غوښتونکي) کـولای شـي، ددې مادې د (۱) فقرې پـه (۱، ۲ او ۵) اجزاو و کې د درج شوو شـرايطو په رعايتولو سره، د عمرې او زيارتونو د اداء کولو لپاره سفر وکړي.

کند.

۳- قبلاً حج نکرده باشـند، محـرم شرعی زنیکه حج فرضی را اداء نکرده و حج بدل از ایـن حکـم مسـتثنی می باشد.

۴- حـداقل ۱۰ سـال از آخـرین حج کـه مطـابق سـهمیه ولایـت مربوطه اش اداء نموده اند، گذشـته باشد.

۵- ممنوع الخروج ازکشور یا ممنوع الدخول درکشور عربستان سـعودی نباشند.

(۲) زنـانی فاقـد محـرم شـرعی کـه سـن ۴۵ یـا بیشـتر از آنـرا تکمیـــل نمـــوده باشـــند در یک مجمع(جمعیت زنان) به حج اعزام شده می توانند.

(۳) متقاضـیان عمـره و زیـارات مـی تواننـد بـا رعایـت شـرایط منـــدرج اجـــزای (۱، ۲ و۵) فقرهٔ (۱) ایـن مـاده جهـت ادای عمـــره و زیـــارات ســـفر نمایند.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## حج ته د نوم ثبتول

**نهمه ماده:**

(۱) ددې مقررې په اتمه ماده کې د درج شوو شرايطو لرونکي متقاضيان، کولای شي فرضي حج ته د نوم ثبتولو لپاره له کړنلارې سره سم، په مرکز کې وزارت او په ولايتونو کې د حج او اوقافو د اړوندو رياستونو ته مراجعه وکړي او د نوم ثبتونې مخصوص فورم ترلاسه کړي.

(۲) د حج د متقاضيانو د نوم ثبتول د تابعيت د تذکرې له مخې د اړوند ولايت له ونډې څخه صورت مومي.

(۳) له هېواد څخه په بهر کې مېشت افغانان کولای شي د تابعيت د تذکرې له مخې د خپل اړوند ولايت له ونډې څخه، له کړنلارې سره سم برخمن شي.

(۴) د هېواد کوچيان او معلولين کولای شي، د تابعيت د تذکرې له مخې په اړوند ولايت کې نومونه ثبت کړي او هم له فوق العاده ونډې څخه په مرکز

## ثبت نام حج

**مادهٔ نهم:**

(۱) متقاضيان واجد شرايط مندرج مادهٔ هشتم اين مقرره می توانند جهت ثبت نام حج فرضی مطابق طرزالعمل درمرکز به وزارت و در ولايات به رياست های ارشاد، حج و اوقاف مربوط مراجعه نموده و فورم مخصوص ثبت نام را دريافت نمايند.

(۲) ثبت نام متقاضيان حج به رويت تذکرهٔ تابعيت از سهميه ولايت مربوط صورت می گيرد.

(۳) افغان های مقيم درخارج کشور می توانند به رويت تذکرهٔ تابعيت از سهميه حج ولايت مربوط خود، طبق طرزالعمل مستفيد شوند.

(۴)کوچی ها ومعلولين کشور می توانند، برويت تذکره تابعيت در ولايت مربوط ثبت نام نمايند و نيز از سهميهٔ فوق العادهٔ پنج، پنج نفری



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

او اړوندو ولایتونو کې پنځه، پنځه تنه د سندونو په وړاندې کولو سره، د کړنلارې سره سم برخمن شي.

## د نوبت تثبیت

**لسمه ماده:**

(۱) که چېرې د فرضي حج د شرایطو لرونکو متقاضیانو شمېر، د هر ولایت له کلنۍ ټاکلې ونډې څخه زیات وي، په هکله یې له اړوندې کړنلارې سره سم اجراآت کېږي.

(۲) د حج متقاضیان کولای شي، د نوبت د تثبیت لپاره د حج له خدماتي لګښتونو څخه ټاکلې مبلغ چې د وزارت لخوا ټاکل کېږي، د مخصوصې تعرفې له مخې، په اړوند حساب کې، بانک ته تحویل کړي.

(۳) د نوبت تثبیت د متقاضي یا د هغه د استازي په حضور کې، ددې مادې په (۲) فقره کې درج د بانکي تعرفې او اړوندې کړنلارې له مخې، په علني توګه صورت مومي.

درمرکز و ولایات مربوط با ارایه اسناد، طبق طرزالعمل مستفید شوند.

## تثبیت نوبت

**مادهٔ دهم:**

(۱) هرگاه تعداد متقاضیان واجد شرایط حج فرضی از سهمیه معینه سالانه هر ولایت بیشتر باشند در مورد طبق طرزالعمل مربوط، اجراآت صورت می گیرد.

(۲) متقاضیان حج می توانند، جهت تثبیت نوبت مبلغ معینی از مصارف خدماتی حج را که از طرف کمیتهٔ حج، عمره و زیارات تعیین می گردد به رویت تعرفهٔ مخصوص به حساب معینه، تحویل بانک نمایند.

(۳) تثبیت نوبت به حضورداشت متقاضی یا نمایندهٔ وی برویت تعرفه بانکی مندرج فقرهٔ (۲) این ماده و طرزالعمل مربوط، طور علنی صورت می گیرد.



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

**د خدماتي لګښتونو پيسې**

**يوولسمه ماده:**

(۱) وزارت د لاندې خدماتي لګښتونو پيسې، حج ته له تلونکو څخه تحصيلوي:

۱- د پاسپورټ د برابرولو لګښتونه.

۲- د تللو او بېرته راتللو، د ټکټ بيه.

۳- په مکه مکرمه او مدينه منوره کې د اوسېدو د ځاى کرايه.

۴- د هېواد دننه او په بهرکې د ترانسپورټي وسايطو کرايه.

۵- د مېشتېدو (اقامت) د مودې په اوږدو کې د حرمينو شريفينو په دننه او سپېڅلو مشاعرو کې د اعاشې لګښتونه.

٦- د سعودي عربستان هېواد، خدماتي ثابته او منافي لګښتونه.

۷- د وزارت له ټاکلي نورم سره سم، د سفر، اوسېدو، اعاشې، جېب خرڅ او د مساعدينو، ناظمينو، مرشدينو، بعثه غړو او ځايي (محلي) کارکوونکو لګښتونه.

۸- د هېواد دننه او په بهر کې د

**پول مصارف خدماتی**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) وزارت، پول مصارف خدماتی ذيل را ازعازمين حج بيت الله شريف، تحصيل می نمايد:

۱- مصارف تهيۀ پاسپورت.

۲- قيمت تکت رفت و برگشت.

۳- کرايۀ محل رهايش درمکۀ مکرمه و مدينۀ منوره.

۴- کرايۀ وسايط ترانسپورتی در داخل و خارج کشور.

۵- مصارف اعاشه در داخل، حرمين شريفين و مشاعر مقدسه درطول مدت اقامت.

٦- مصارف خدماتی ثابته و اضافی کشور عربستان سعودی.

۷- مصارف سفر، اقامت، اعاشه، جيب خرچ و تشويق ناظمين، مرشدين، مساعدين، اعضای بعثه و کارکنان محلی مطابق نورم معينه وزارت.

۸- مصارف قرطاسيه، البسه، امور

قرطاسيې، البسې، اداري، ارشـادي، فرهنګي او خدماتي چارو لګښتونه او متفرقه لګښتونه.

۹- د واکسینو او اړتیا وړ درملو پیسې.

۱۰- د هېواد دننه او په بهرکې په حجاجو پورې د اړوندو چارو په تنظیم کې د مؤظفو کارکوونکو د حق الزحمې او اضافه کارۍ لګښتونه.

۱۱- احتیاطي لګښتونه.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي لګښتونه هر کال د حج د کورني کمېسیون په واسطه تثبیت او د وزارت مقام له منظورۍ وروسته حج ته د تلونکو لخوا، خاص بانکي حساب ته تحویلېږي او له سنجش شوو لګښتونو څخه پاتې پیسې له اړوندې کړنلارې سره سم د راتلونکي کال د حج دپروسو په مصالحو او په خیریه چارو کې د حجاجو د رضایت له ترلاسه کولو وروسته لګول کېږي.

اداری، ارشادی، فرهنگی و خدماتی و مصارف متفرقه در داخل وخارج کشور.

۹- پول واکسین و ادویه مورد نیاز.

۱۰- مصارف حق الزحمه و اضافه کاری کارکنان مؤظف در تنظیم امور مربوط به حجاج در داخل و خارج کشور.

۱۱- مصارف احتیاطی.

(۲) مصارف مندرج فقرهٔ (۱) این ماده همه ساله توسط کمیسیون داخلی حج تثبیت وبعد از منظوری مقام وزارت توسط عازمین حج به حساب بانکی خاص تحویل می گردد و پول باقی مانده از مصارف سنجش شده در مصالح پروسه های حج سال آینده و امور خیریه مطابق طرزالعمل مربوط بعد از کسب رضایت حجاج به مصرف می رسد.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

**د کاري کميټو، بعثه هيئت، ناظمينو، مرشدينو او مساعدينو ټاکل او توظيف**

**دوولسمه ماده:**

(۱) د بيت الله شريف تلونکو ته د ښو او پر وخت خدمتونو د وړاندې کولو په منظور، د هېواد دننه له اړتيا سره سم، کاري کميټې او په سعودي عربستان هېواد کې بعثه هيئت، ناظمين، مرشدين او مساعدينو ټاکل او توظيف کېږي.

(۲) بعثه هيئت او د مرشدينو، ناظمينو شمېر او مساعدينو د سعودي عربستان د دولت په موافقه، د وزارت په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ ټاکل کېږي.

(۳) بعثه هيئت له اداري، روغتيايي، خدماتي، مشورتي، څارنيزو، فرهنګي، ارشادي او نورو اړتيا وړ کميټو څخه جوړېږي.

(۴) د حج د مناسکو د همکارۍ، لارښوونې او تعليم لپاره، له کړنلارې سره سم، د هېواد له مرکز او ولايتونو

**تعيين و توظيف کميته های کاری، هيئت بعثه، ناظمين، مرشدين و مساعدين**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) به منظور ارائه خدمات بهتر و به موقع به عازمين بيت الله شريف کميته های کاری حسب ضرورت در داخل کشور و هيئت بعثه، ناظمين، مرشدين ومساعدين درکشور عربستان سعودی تعيين و توظيف می گردد.

(۲) تعداد هيئت بعثه، ناظمين، مرشدين و مساعدين به اساس توافق دولت عربستان سعودی، پيشنهاد وزارت و تائيد کميتۀ حج عمره و زيارات، تعيين می گردد.

(۳) هيئت بعثه متشکل ازکميته های اداری، صحی، خدماتی، مشورتی، نظارتی،فرهنگی، ارشادی و ساير کميته های مورد ضرورت، می باشد.

(۴) مرشدين، ناظمين و مساعدين جهت همکاری، رهنمايی و تعليم مناسک حج مطابق طرزالعمل بانظر



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

ښځه اړوندي ونډې ته په پام سره مرشدين، ناظمين او مساعدينو ټاکل او توظيف کېږي.

(۵) د ارشاد، حج او اوقافو وزير د بعثه هيئت عمومي رئيس اود کاري کميټو رئيسان ټاکي.

## دريیم فصل

## دندې او مکلفيتونه

**د وزارت دندې او مکلفيتونه**

**ديارلسمه ماده:**

(۱) وزارت د حجاجو، معتمرينو او زائرينو په لېږلو پورې د اړوندو چارو د تنظيم او سمون په منظور، د لاندو دندو لرونکی دی:

۱- د سعودي عربستان دولت له مقاماتو سره په همغږۍ کې د هېواد د حج د کلنۍ ونډې تثبيت.

۲- د احصائيې د مرکزي اداري د وړاندې شوو ارقامو پربنسټ د نفوسو تناسب ته په پام سره د مرکز او ولايتونو لپاره د حج د ونډې ويش.

۳- د بيت الله شريف حج ته د تلونکو

داشت سهمية مربوط از مرکز و ولايات کشور، تعيين و توظيف مى گردند.

(۵) وزير ارشاد، حج و اوقاف، رئيس عمومى هيئت بعثه و رؤساى کميته هاى کارى را، تعيين مى نمايد.

## فصل سوم

## وظايف و مکلفيت ها

**وظايف و مکلفيت هاى وزارت**

**مادهٔ سيزدهم:**

(۱) وزارت به منظور تنظيم و انسجام امور مربوط به اعزام حجاج، معتمرين و زائرين داراى وظايف ذيل مى باشد:

۱- تثبيت سهميه سالانه حج کشور درهماهنگى با مقامات دولت عربستان سعودى.

۲- تعيين و توزيع سهميه حج براى مرکز و ولايات با نظر داشت تناسب نفوس به اساس ارقام ارائه شده ادارهٔ مرکزى احصائيه.

۳- تثبيت سهميه استثنائى الى



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

له مجموع څخه تر ۱۵ سلنې پورې د استثنائي ونډې تثبيت.

۴- له اړوندې کړنلارې سره سم، د حج د متقاضيانو غوښتنليکونو ته رسيدګي.

۵- د فرضي حج له مراسمو دمخه او د هغو په بهير کې د لازمو او اړينو اسانتياوو د برابرولو او د سعودي عربستان هېواد ته د بيت الله شريف د تلونکو لپاره د مناسبو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره، د پروسې په مختلفو پړاوونو کې د کاري هيئت لېږل.

٦- د نوم د ثبتولو د پيل او پای د نېټې ټاکل او د هغې اعلان.

۷- د نوبت تثبيت او د بيت الله شريف د تلونکو د سندونو د پړاوونو تېرول.

۸- د نوبت له تثبيت او د سفرد سندونو او له هغو څخه د راوروسته پړاوونو له تېرولو دمخه د ټولو تدبيرونو او نورو لازمو آماده ګيو په هکله حجاجو ته د دقيقو معلوماتو وړاندې کول.

۹- د هېواد په رسمي ژبو د لازمو سندونو او پاڼو او د حج او عمرې د

۱۵ فيصد از مجموع عازمين حج بيت الله شريف.

۴- رسيدگی به درخواست متقاضيان حج مطابق طرزالعمل مربوط.

۵- اعزام هيئت کاری درمراحل مختلف پروسه، قبل از مراسم حج فرضی ودرجريان آن جهت فراهم آوری تسهيلات لازم و ضروری و ارائه خدمات مناسب برای عازمين حج بيت الله شريف به کشور عربستان سعودی.

٦- تعيين آغاز و پايان تاريخ ثبت نام و اعلان آن.

۷- تثبيت نوبت و طی مراحل اسناد عازمين حج بيت الله شريف.

۸- ارائه معلومات دقيق به حجاج در مورد کليه تدابير و ساير آماده گی های لازم قبل از تثبيت نوبت و طی مراحل اسناد سفر و بعد از آن.

۹- طبع، نشر و توزيع اسناد و اوراق لازم و رساله مناسک



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

مناسکو د رسالې چاپ، خپرول او وېش.

۱۰- د ټاکلي بروشور چاپ او خپرول او د افغانستان د اسلامي جمهوریت او کوربه هېواد پالیسیو ته په پام سره د اړتیا وړ فرهنګي موادو برابرول.

۱۱- په مکه مکرمه او مدینه منوره کې د حجاجو لپاره د اوسېدو د مناسب ځای برابرول او تدارک .

۱۲- د حجاجو له لېږدوونکي هوايي شرکت سره د قرارداد عقدول.

۱۳- حجاجو ته د عامې روغتیا وزارت په همکاری د اړتیا وړ واکسین او لازمو درملو برابرول او تدارک.

۱۴- حجاجو، بعثه هیئت، مرشدینو، ناظمینو او مساعدینو ته د حج د مراسمو د اداءکولو په وخت کې د هغوی د ښه پېژندلو په منظور، د یونیفورم برابرول او تدارک.

۱۵- د حج تلونکو ته د ویزې اخیستل او معتمرینو او زائرینو ته د اړوندو اداري چارو اسانول.

۱٦- د وزارت خاص بانکي حساب ته

حج و عمره به لسان های رسمی کشور.

۱۰- طبع و نشر بروشور معین و تهیه مواد فرهنگی مورد نیاز با نظر داشت پالیسی دولت جمهوری اسلامی افغانستان وکشور میزبان.

۱۱- تهیه و تدارک محل مناسب رهایشی برای حجاج در مکهٔ مکرمه و مدینهٔ منوره.

۱۲- عقد قرارداد با شرکت هوایی انتقال دهندهٔ حجاج.

۱۳- تهیه و تدارک واکسین مورد نیاز و ادویه لازم به همکاری وزارت صحت عامه، برای حجاج.

۱۴- تهیه و توزیع یونیفورم به حجاج، هیئت بعثه، ناظمین، مرشدین ومساعدین به منظور شناخت بهتر آنان، حین ادای مراسم حج.

۱۵- اخذ ویزه برای عازمین حج و تسهیل امور اداری مربوط به معتمرین و زائرین.

۱٦- تعیین و اعلان پول مصارفاتی



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

د بیت الله شریف د تلونکو په واسطه د ورکړې وړ لګښتي پیسو تاکل او اعلان.

قابل پرداخت توسط عازمین حج بیت الله شریف به حساب بانکی خاص وزارت.

۱۷- د ممنوعه شیانو او اجناسو د نه لیږد په اړه حجاجو ته لازمه خبرتیا(آګاهي)ورکول.

۱۷- آگاهی دهی لازم به حجاج در رابطه به عدم انتقال اشیاء و اجناس ممنوعه.

۱۸- د حج د مناسکو د ښوونې (تعلیم)، د روغتیایي کتنود سرته رسولو، د واکسینونو د تطبیق، دسندونو او لازمو موادو د ویش په منظور د حجاجو د راټولیدو د مناسب ځای تثبیت.

۱۸- تثبیت محل مناسب در مجتمعات حجاج به منظور تعلیم مناسک حج، انجام معاینات صحی، تطبیق واکسین ها، توزیع اسناد و مواد لازم.

۱۹- له اړوندو ادارو سره د هم غږی رامنځته کول.

۱۹- ایجاد هماهنگی با ادارات ذیربط.

۲۰- د عمرې او زیارتونو په برخه کې د فعالیت لپاره د زیارتي اجازه لیک صادرول.

۲۰- صدور اجازه نامهٔ زیارتی جهت فعالیت درعرصهٔ عمره و زیارات.

۲۱- د عمرې او زیارت په برخو کې د فعالیت لپاره له زیارتي شرکتونو سره د قرارداد عقد.

۲۱- عقد قرارداد با شرکت های زیارتی جهت فعالیت دربخش های عمره وزیارات.

۲۲- په سعودي عربستان هیواد کې د حج د بعثې ( د حجاجو د شئونو ښوونځي) په نوم د بانکي حسابونو پرانیستل.

۲۲- افتتاح حسابات بانکی به اسم بعثه حج (مکتب شئون حجاج) در کشور عربستان سعودی.



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

۲۳- د ملکي هوايي چلند لـه اداري سره په همغږۍ کې د حجاجو د لېږد لپاره د معياري شرطپاڼي برابرول او ترتيب.

۲۴- د هېواد دننه او په بهر کې د حج د پروسې د خدماتي لګښتونواجراء.

۲۵- د حجاجو د ټولنو تجهيز او د تللو او راتللو په پړاو کې د لازمو آمادګيو نيول.

۲٦- د سعودي عربستان له دولت سره په پوهاوي کې، د هېواد د اتباعو ته د عمرې د اداء کولو د زمينې برابرول.

۲۷- زائرينو ته د زيارتي فرصتونو د زمينې برابرول.

۲۸- د حج د پروسې په پای کې لـه اړوندو ادارو سره د حسابونو تصفيه او عنداللزوم واکمنو مقاماتو ته د رپوټ وړاندې کول.

۲۹- له اړوندو ادارو څخه د حجاجو، معتمرينو او زائرينو د دقيقې احصائيې راټولول، په مخصوص ډيتابيس کې د هغو ثبت او ساتل.

۳۰- د بيت الله شريف د حج، عمرې

۲۳- تهيه و ترتيب شرطنامه معيارى جهت انتقال حجاج در هماهنگى با ادارۀ هوانوردى ملکى.

۲۴- اجراى مصارف خدماتى پروسه حج در داخل و خارج کشور.

۲۵- تجهيز مجتمعات حجاج و اتخاذ آمادگى هاى لازم درمرحلۀ رفت و برگشت.

۲٦- فراهم آورى زمينه اداى عمره براى اتباع کشور در تفاهم با دولت عربستان سعودى.

۲۷- فراهم آورى زمينه و فرصت هاى زيارتى براى زائرين.

۲۸- تصفيه حسابات با ادارات ذيربط درختم پروسۀ حج و ارائه گزارش به مقامات ذيصلاح عنداللزوم.

۲۹-جمع آورى احصائيه دقيق حجاج، معتمرين و زائرين از مراجع ذيربط، ثبت ونگهدارى آن در ديتابيس مخصوص.

۳۰- انجام ساير وظايف



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

او زیارتونو په تلونکو پورې د نورو اړوندو چارو سرته رسول.

(۲) وزارت، په حج پورې د اړوندو اجناسو او خدمتونو د برابرولو او تدارک مربوطې چارې د هېواد دننه د قانون له حکمونو سره سمې او له هېواده بهر له اړوندو کړنلارو سره سمې تنظیموي.

(۳) ددې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزء کې درج شوې استثنائي ونډه له هغې کړنلارې سره سم چې په کلني ډول د حج، عمرې او زیارتونو د کمیتې لخوا تصویبېږي، وېشل کېږي.

## د بهرنیو چارو وزارت دندې او مکلفیتونه

### څوارلسمه ماده:

(۱) د بهرنیو چارو وزارت د حج د تلونکو په اړه کاري مؤظف هیئت، بعثه غړي، خدماتي او اداري کمیتې د لاندې دندې او مکلفیتونو لرونکي دي:

۱- د حج تلونکو، معمترینو او زائرینو

مربوط به عازمین حج بیت الله شریف، عمره و زیارات.

(۲) وزارت، امور مربوط به تهیه وتدارک اجناس و خدمات مربوط به حج را در داخل کشور طبق احکام قانون و در خارج از کشور طبق طرزالعمل های مربوط تنظیم می نماید.

(۳) سهمیه استثنائی مندرج جزء (۳) فقرۀ (۱) این ماده مطابق طرزالعملی که سالانه از طرف کمیتۀ حج، عمره و زیارات تصویب می شود، توزیع می گردد.

## وظایف ومکلفیت های وزارت امورخارجه

### مادۀ چهاردهم:

(۱) وزارت امورخارجه در ارتباط به عازمین حج بیت الله شریف، هیئت مؤظف کاری، اعضای بعثه، کمیته های خدماتی و اداری دارای وظایف و مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- ایجاد تسهیلات لازم برای



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

ته له وزارت سره په همغږۍ کې لـه ډیپلوماتیکو لارو(مجاریو) څخه د سفر له وخته دمخه، د لازمـو اسـانتیاوو برابرول.

۲- د حج د سفر، عمرې او زیارتونو په بهیر کې په کوربه هېـواد کـې د مناسبو اسانتیاوو د تأمین او د ستونزو د لرې کولو په منظور، لازمه همکاري.

۳- کاري مؤظف هیئت، د بعثې غړو، خدماتي او اداري کمیټو ته د پاسپورت برابرول او صادرول.

۴- د ویزې اخیستل او دهغې تمدید او پدې برخه کې د ستونزو لرې کول.

۵- د وزارت په تشخیص د نورو چارو سرته رسول.

(۲) سیاسي نمایندګۍ او قونسلي ګانې د لاندې چارو په سرته رسولو مکلفـې دي:

۱- د کوربه هېواد له مراجعو څخه د ویزې اخیستل او تمدید.

۲- د ستونزو په لرې کولو (حل) کې له کاري هیئـت سـره همکـاري او حجاجو، معتمرینو او زائرینـو تـه د

عـازمین حـج بیـت الله شـریف، معتمـرین و زائـرین قبـل از موعد سفر ازمجـاری دیپلوماتیـک درهماهنگی با وزارت.

۲- همکاری لازم به منظـور تـأمین تسهیلات مناسب و رفـع مشـکلات درجریان سفر حج، عمره و زیـارات درکشور های میزبان.

۳- تهیه و صدور پاسپورت به هیئـت مؤظف کاری، اعضای بعثه، کمیته های خدماتی و اداری.

۴- اخذ ویزه و تمدیـد آن و حـل مشکلات در این عرصه.

۵- انجام سایر امور مربوط به تشخیص وزارت.

(۲) نمایندگی های سیاسی و قونسلی مکلـف بـه انجـام امـور ذیـل می باشند:

۱- اخذ و تمدید ویزه ازمراجع کشور میزبان.

۲- همکـاری بـا هیئـت کـاری در حـل مشـکلات و فـراهم آوری تسهیلات لازم برای حجاج، معتمرین و



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

اسانتیاوو برابرول.

۳- په کوربه هېواد کې د حجاجو، معتمرینو او زائرینو له وضعیت څخه باخبري.

۴- ناروغو، فوتي، معذرتي حجاجو، معتمرینو او زائرینو ته لازمه رسیدګي اود نورو ستونزو لرې کول.

۵- د متوفي او نوو زیږېدلو (جدیدالتولد) حجاجو، معتمرینو او زائرینو د سندونو د پراوونو تېرول او پدې برخه کې د لازمو اسانتیاوو برابرول.

٦- په کوربه هېواد کې د ورکو، محجورو او محبوسو حجاجو، معتمرینو او زائرینو ستونزو ته رسیدګي.

۷- د حجاجو، معتمرینو او زائرینو د قدوم او بېرته راګرځېدو پر وخت د هغو د ستونزو د فوري حل لپاره د کوربه هېواد په هوایي ډګرونو کې د لږ تر لږه یوه تن واکمن نماینده(استازي) متداوم حضور.

۸- په مني او عرفات کې د حج د مراسمو د پرځای کولو (اداء) پروخت

زائرین.

۳- باخبری از وضعیت حجاج، معتمرین و زائرین در کشور میزبان.

۴- رسیدگی لازم به حجاج، معتمرین و زائرین مریض، فوتی، معذرتی و حل سایرمشکلات.

۵- طی مراحل اسناد حجاج، معتمرین و زائرین متوفی و جدید التولد و فراهم آوری تسهیلات لازم در زمینه.

٦- رسیدگی به مشکلات حجاج، معتمرین و زائرین مفقود، محجور و محبوس درکشور میزبان.

۷- حضور متداوم حداقل یکنفر نماینده باصلاحیت در میادین هوایی کشور های میزبان حین قدوم و بازگشت حجاج، معتمرین و زائرین جهت حل مشکلات فوری آنها.

۸- همکاری با وزارت در برافراشتن بیرق جمهوری



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

د افغانستان اسلامي جمهوريت د بيرغ په پورته کولو کې له وزارت سره همکاري.

۹- په سعودي عربستان هېواد کې د وزارت د بانکي حسابونو په متداوم فعال ساتلو کې همکاري.

۱۰- د بعثه هيئت د عمومي رئيس په مشوره د نورو اړوندو چارو سرته رسول.

## د عامې روغتيا وزارت دندې او مکلفيتونه

پنځلسمه ماده:

د عامې روغتيا وزارت د حج تلونکو ته په وړيا توګه د لاندې خدمتونو په سرته رسولو مکلف دی:

۱- د وزارت د ليکلې غوښتنې پربنسټ د با تجربه او مسلکي طبي پرسونل معرفي.

۲- له سفر دمخه او د هغهٔ په بهير کې لازم صحي پوهاوی ورکول.

۳- د حج، عمرې او زائرينو د صحي کتنو سرته رسول.

اسلامی افغانستان حین ادای مراسم حج درمنی وعرفات.

۹- همکاری متداوم درفعال نگهداشتن حسابات بانکی وزارت در کشور عربستان سعودی.

۱۰- انجام ساير امور مربوط به مشورهٔ رئيس عمومی هيئت بعثه.

## وظايف و مکلفيت های وزارت صحت عامه

مادهٔ پانزدهم:

وزارت صحت عامه مکلف به انجام خدمات ذيل طور رايگان به عازمين حج بيت الله شريف می باشد:

۱- معرفی پرسونل طبی با تجربه و مسلکی به اساس تقاضای کتبی وزارت.

۲- اگاهی دهی صحی لازم قبل از سفر و در جريان آن.

۳- انجام معاينات صحی عازمين حج بيت الله شريف، عمره و زائرين.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

۴- د مرضونو له خپرېدو (شیوع) څخه د مخنیوي په منظور، د صحي وقایوي تدبیرونو نیول.

۵- له وزارت سره د حجاجو د اړتیا وړ واکسینونو او درملو په تشخیص او برابرولو کې همکاري.

٦- له برابروونکي شرکت څخه د اړتیا وړ واکسینونو تسلیمول او ساتل، د حجاجو د الوتنې په زونونو کې له لېږد او پر حجاجو باندې د هغو له تطبیق وروسته.

۷- د حجاجو د الوتنې په زونونو کې د اړتیا وړ درملو، امبولانس او طبي سامان آلاتو برابرول.

۸- د وزارت په تشخیص د نورو طبي خدمتونو سرته رسول.

## د کورنیو چارو وزارت دندې او مکلفیتونه

### شپاړسمه ماده:

د کورنیو چارو وزارت د حج د تلونکو په اړه د لاندې دندې او مکلفیتونو لرونکی دی:

۴- اتخاذ تدابیر صحی وقایوی به منظور جلوگیری از شیوع امراض.

۵- همکاری درتشخیص وتهیه واکسین ها و ادویه مورد ضرورت حجاج با وزارت.

٦- تسلیم گیری و نگهداری واکسین های مورد ضرورت از شرکت فراهم کننده بعد از انتقال و تطبیق آن بالای حجاج در زون های پرواز حجاج.

۷- تهیه ادویه، امبولانس و سامان آلات طبی مورد ضرورت در زون های پرواز حجاج.

۸ - انجام سایر خدمات صحی به تشخیص وزارت.

## وظایف ومکلفیت های وزارت امورداخله

### مادۀ شانزدهم:

وزارت امورداخله در ارتباط به عازمین حج بیت الله شریف دارای وظایف ومکلفیت های ذیل می باشد:



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

۱- د بيت الله شريف د حج د غوښتونکو، معتمرينو او زائرينو په ځايونو او مجتمعاتو کې د امنيتي لازمو تدبيرونو نيول.

۲- په مرکز او ولايتونو کې د ترتيب شوو جدولونو له مخې د قانون له حکمونو سره سم حجاجو، معتمرينو او زائرينو ته د پاسپورت برابرول او صادرول.

۳- د مشکوکو او ممنوع الخروج اشخاصو پېژندل او د حج د تلونکو، معتمرينو او زائرينو په ډله کې د هغو له تنظيم او لېږلو څخه مخنيوی.

۴- د شخص د مشکوک والي په صورت کې د هغهٔ د تابعيت د تذکرې تأييد او تصديق د هغې له سوابقو سره له تطبيق وروسته او په هغې کې له هر ډول احتمالي تقلبونو څخه مخنيوی.

۵- د وزارت په تشخيص د نورو اړوندو چارو سرته رسول.

۱- اتخاذ تدابير لازم امنيتی در محلات و مجتمعات متقاضيان حج بيت الله شريف، معتمرين و زائرين.

۲- تهيهٔ و صدور پاسپورت برای حجاج، معتمرين و زائرين مطابق احکام قانون برويت جداول مرتبه وزارت در مرکز و ولايات.

۳- شناسايی اشخاص مشکوک و ممنوع الخروج و جلوگيری از تنظيم و اعزام شان در رديف عازمين حج، معتمرين و زائرين.

۴- در صورت مشکوک بودن شخص، تائيد و تصديق تذکرهٔ تابعيت وی بعد از تطبيق با سوابق آن و جلوگيری از هرنوع تقلب های احتمالی در آن.

۵-انجام ساير امور مربوط به تشخيص وزارت.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## د ترانسپورت وزارت دندې اومکلفیتونه

**اوولسمه ماده:**

د ترانسپورت وزارت د هېواد دننه د حج د تلونکو په اړه د لاندې دندې او مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- د وزارت د لیکلي غوښتنې له مخې د اړتیا په صورت کې د حجاجو، معتمرینو او زائرینو د ځمکني مسافرت د لازمو اسانتیاوو برابرول.

۲- د حجاجو له مجتمعاتو څخه تر هوايي ډګرونو پورې او برعکس د حجاجو، معتمرینو او زائرینو د لېږدولو لپاره د ځمکنیو نقلیه وسایطو په برابرولو او تدارک کې همکاري.

۳- له وزارت سره په مشوره کې د نورو دندو او اړوندو مکلفیتونو سرته رسول.

## وظایف و مکلفیت های وزارت ترانسپورت

**مادۀ هفدهم:**

وزارت ترانسپورت در ارتباط به عازمین حج بیت الله شریف در داخل کشور دارای وظایف و مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- فراهم نمودن تسهیلات لازم مسافرت زمینی حجاج، معتمرین و زائرین در صورت ضرورت بنابر تقاضای کتبی وزارت.

۲- همکاری در تهیه و تدارک وسایط نقلیه زمینی جهت انتقال حجاج از مجتمعات حجاج الی میادین هوایی و برعکس آن.

۳- انجام سایر وظایف و مکلفیت های مربوط در مشوره با وزارت.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## د ملکي هوايي چلند د اداري دندې او مکلفيتونه

**اتلسمه ماده:**

د ملکي هوايي چلنـــد اداره د حـــج د تلونکو پـــه اړه د لانـــدې دنـــدو او مکلفيتونو لرونکې ده:

۱- حجاجو، معتمرينو او زائرينو ته په هوايي ډگرونو او اړوندو ترمينلونو کې د معياري خدمتونو د وړاندې کولـــو د لازمو اسانتياوو برابرول.

۲- د يوهٔ تن حاجي د تلو او بېرته راتلو د ټکټ د بيې په هکله لازمو معيارونو ته په پام سره د معلوماتو وړاندې کول او د قانون له حکمونو سره سم د وزارت د شرطپاڼې مطابق، په ابتدايي توگـــه دهغې تثبيت.

۳- د حجاجو د لېږدولو لپاره معياري شرطپاڼې په برابرولو، ترتيب او بيا کتنه کې له وزارت سره همکاري.

۴- له وزارت سره په همغږۍ کـــې د بين المللي معيـــارونو او د ســـعودي عربستان د شرايطو پربنسټ د حجاجو

## وظايف ومکلفيـــت هـــای اداره هوانوردی ملکی

**مادهٔ هجدهم:**

ادارهٔ هوانوردی ملکی درارتبـــاط بـــه عازمين حج بيت الله شـــريف دارای وظايف و مکلفيت های ذيل می باشد:

۱- فراهم نمودن تســـهيلات لازم و ارائه خدمات معياری در ميادين هوايی و ترمينل های مربوط، برای حجـــاج، معتمرين و زائرين.

۲- ارائه معلومـــات بـــا نظرداشـــت معيار هـــای لازم در مـــورد قيمـــت تکت رفـــت و برگشـــت فـــی نفـــر حاجی و تثبيت آن بصورت ابتـــدائی طبق شرطنامه وزارت مطابق احکـــام قانون.

۳- همکاری با وزارت در تهيه، ترتيب وبازنگری شرطنامه معيـــاری جهـــت انتقال حجاج.

۴- بررسی فنی ومسلکی ظرفيت های موجود در شرکت های هوايی داوطلب انتقال دهنده حجـــاج بـــه اســـاس

په لېږدوونکو داوطلبو شرکتو کې د موجودو فني او مسلکي ظرفيتونو بررسي.

۵- د سعودي عربستان دولت شرايطو ته په پام سره د هوايي چلند د لازمو شرايطو او معيارونو تطبيق او له وزارت سره په هم غږۍ کې د حجاجو د تلو او بېرته راتلو په بهير کې له هغو څخه متداومه څارنه.

٦- له وزارت سره په مشوره کې د نورو اړوندو دندې او مکلفيتونو سرته رسول.

## د زيارتي او سياحتي خصوصي شرکتونو مکلفيتونه

نولسمه ماده:

(۱) اړوند خصوصي او سياحتي شرکتونه مکلف دي، د حج، عمرې او زيارتونو مخصوص اجازه ليک له وزارت څخه واخلي.

(۲) اړوند سياحتي او زيارتي خصوصي شرکتونه مکلف دي، په حجاجو معتمرينو او زائرينو

معيارهای بين المللی وشرايط دولت عربستان سعودی درهماهنگی با وزارت.

۵- تطبيق شرايط و معيارهای لازم هوانوردی با نظر داشت شرايط دولت عربستان سعودی و نظارت متداوم از آن در جريان رفت و برگشت حجاج در هماهنگی با وزارت.

٦- انجام سايروظايف و مکلفيت های مربوط در مشوره با وزارت.

## مکلفيت های شرکت های خصوصی زيارتی و سياحتی

مادۀ نزدهم:

(۱) شرکت های خصوصی زيارتی و سياحتی مربوط مکلف اند، اجازه نامۀ مخصوص حج، عمره وزيارات را از وزارت اخذ نمايند.

(۲) شرکت های خصوصی زيارتی و سياحتی مربوط مکلف اند در زمينۀ تنظيم امور مربوط به حجاج، معتمرين



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

پورې د اړوندو چارو د تنظیم په برخه کې، له وزارت سره جلا قرارداد عقد کړي.

(۳) اړوند سیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونه نشي کولای پــه حجــاجو، معتمرینو او زائرینو پــورې د اړونــدو چارو د تنظیم په اړه، هېڅ ډول فعالیت د وزارت له مخصوص اجازه لیک او د قرارداد له عقد پرته، سرته ورسوي.

(۴) د وزارت او اړوندو ســیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونو شــرایط او مکلفیتونــه، پــه قــرارداد کــې تنظیمېږي.

(۵) اړوند سیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونه وزارت ته د شمېر په تفکیک سره د معتمرینو او زائرینــو د دقیــق رپوټ په وړاندې کولو مکلف دي.

(٦) که چېرې اړوند زیارتي او سیاحتي خصوصي شرکتونه، د دې مــادې پــه درج شوو حکمونو یا اړوند قــرارداد څخه سرغړونه وکړي په نغدي جریمې چې د فعالیت د جواز د بیې دوه برابره وي تر تأدیب لاندې نیول کېږي او د

و زائرین مطابق طرز العمل مربــوط قرارداد جداگانه را بــا وزارت عقــد نمایند.

(۳) شرکت های خصوصی زیــارتی و سیاحتی مربوط نمی توانند، هیچ نوع فعالیت را در رابطه به تنظــیم امــور مربوط به حجاج، متعمرین و زائــرین، بدون اجازه نامۀ مخصــوص وعقــد قرارداد با وزارت، انجام دهند.

(۴) شرایط و مکلفیت های وزارت و شرکت هــای خصوصــی زیــارتی و سیاحتی مربوط درقــرار داد، تنظــیم می گردد.

(۵) شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی مربوط مکلف به ارائه گزارش دقیق با تفکیک تعداد متعمرین و زائرین به وزارت می باشند.

(٦) هرگاه شرکت هــای خصوصــی زیارتی و سیاحتی مربــوط از احکــام مندرج این ماده یا قــرارداد مربــوط تخلف نمایندبه جریمه نقدی کــه دو چند قیمت جواز فعالیت باشد مــورد تأدیب قرار گرفته و در صورت تکرار



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

سرغړونې د تکرار په صورت کې د هغوی د فعالیت جواز لغو کېږي.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**عمرې او زیارتونه**

**شلمه ماده:**

له اړوندې کړنلارې سره سم دخدمتونو تصنیف ته په پام سره د عمرې اوزیارتونو اجمالي لګښتونه د کورنۍ کمیټې په واسطه سنجش اود حج،عمرې او زیارتونو د کمیټې له تصویب وروسته د زیارتي او سیاحتي خصوصي شرکتونو په واسطه عملي کېږي.

**د حج د خدماتي لګښتونو د پیسو تحویلي**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) وزارت د حجاجو د پیسو د تحویل ساتلو او لېږد په منظور د مالیې له وزارت سره په مشوره کې د هېواد په یوهٔ

تخلف جواز فعالیت آن ها لغو می گردد.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**عمره و زیارات**

**مادهٔ بیستم:**

مصارف اجمالی عمره و زیارات با نظر داشت تصنیف خدمات مطابق طرزالعمل مربوط توسط کمیتهٔ داخلی سنجش و بعد از تصویب کمیتهٔ حج، عمره و زیارات توسط شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی عملی می گردد.

**تحویلی پول مصارف خدماتی حج**

**مادهٔ بیست و یکم:**

(۱) وزارت به منظور تحویل، نگهداری و انتقال پول حجاج حساب بانکی خاص را در یکی از بانک های معتبر



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

معتبر بانک کې خاص بانکي حساب پرانیزي.

(۲) د حج متقاضیان، د حج د خدماتي لګښتونو پاتې پیسې، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حساب کې د مخصوصې تعرفې په ذریعه، بانک ته تحویلوي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوې پیسې، ددې مقررې د یوولسمې مادې په (۱) فقره او د درویشتمې مادې په (۵ او ٦) فقرو کې د درج شوو خدمتونو د لګښتونو د ورکړې په منظور، د بانک له لارې اړوند حساب ته او د مبرمې اړتیا په صورت کې په مستقیمه (فزیکي) توګه لیږدېږي.

<u>د معتمرینواوزائرینودخدماتي</u>

<u>لګښتونو د پیسو تحویلول</u>

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) سیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونه مکلف دي، د معتمرینو او زائرینو د خدماتي لګښتونو د پیسو د

کشور در مشوره با وزارت مالیه افتتاح می نماید.

(۲) متقاضیان حج، پول باقیمانده مصارف خدماتی حج را به حساب مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ذریعهٔ تعرفهٔ مخصوص، تحویل بانک می نمایند.

(۳) پول مندرج فقرهٔ (۲) این ماده به منظور پرداخت مصارف خدمات مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ یازدهم و فقره های (۵ و٦) مادهٔ بیست و سوم این مقرره به حساب مربوط از طریق بانک و در صورت ضرورت مبرم بطور مستقیم (فزیکی) انتقال می گردد.

<u>تحویلی پول مصارف خدماتی</u>

<u>معتمرین وزائرین</u>

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی مکلف اند به منظور جمع آوری پول مصارف خدماتی معتمرین و



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

راټولولو په منظور، اړوند بانکي حساب، د وزارت په موافقه په یوهٔ له بانکو کې پرانیزي.

(۲) اړوند سیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونه مکلف دي، د معتمرینو او زائرینو د خدماتي لګښتونو پیسې له کړنلارې سره سم، د تعرفې له مخې پخپله د شخص په واسطه ددې مادې په (۱) فقره کې، درج شوي بانکي حساب ته تحویل کړي.

## د خدماتي پیسو د برداشت او لګښتونو واک

**درویشتمه ماده:**

(۱) ددې مقررې د یوویشتمې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي بانکي حساب څخه د حج د خدماتي لګښتونو د پیسو برداشت د هغو لګښتونو د چارت پربنسټ چې له مخکې ترتیب او د حج، عمرې او زیارتونو د کمیټې په واسطه تصویب او هرکال د مالیې وزارت ته استول کیږي د ارشاد، حج او اوقافو د وزیر او یا د هغهٔ شخص له

زائرین، حساب بانکی مربوط را به موافقهٔ وزارت در یکی از بانک ها افتتاح نمایند.

(۲) شرکت های خصوصی زیارتی و سیاحتی مربوط مکلف اند، پول مصارف خدماتی معتمرین و زائرین را طبق طرز العمل به رویت تعرفه به حساب بانکی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط خود شخص تحویل نمایند.

## صلاحیت برداشت ومصارف پول خدماتی

**مادهٔ بیست و سوم:**

(۱) برداشت پول مصارف خدماتی حج از حساب بانکی مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست ویکم این مقرره به اساس چارت مصارفاتی که از قبل ترتیب و توسط کمیتهٔ حج، عمره و زیارات تصویب و همه ساله به وزارت مالیه ارسال می گردد از صلاحیت های وزیر ارشاد،حج واوقاف و یا شخصی که به وی تفویض

واکونو ښخه دی، چې واک ورکړل شوی وي.

(۲) اړوند سیاحتي او زیارتي خصوصي شرکتونه کولای شي، د وزارت د موافقې له اخیستلو وروسته، له اړوندې کړنلارې سره سم، ددې مقررې د دوه ویشتمې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي ټاکلي حساب کې له تحویل شوو پیسو ښخه، برداشت او لګوي.

(۳) د ارشاد، حج او اوقافو وزیر یا هغه شخص چې واک ورکړل شوی کولای شي، د هېواد د نافذو تقنیني سندونو په رڼا کې او د حجاجو ګټو ته په پام سره د حج خدماتي پیسې ولګوي.

(۴) په سعودي عربستان هېواد کې خدماتي لګښتونه، د اړتیا په صورت او د هغهٔ هېواد شرایطو او مخصوصو حالاتو ته په پام سره، د بعثه د عمومي رئیس له لارې اجراء کېږي.

(۵) له دمخه نه سنجش شوي لګښتونه او متفرقه لګښتونه د هېواد دننه او په بهر کې د حجاجو ګټو ته په پام سره، د

صلاحیت گردیده است، می باشد.

(۲) شرکت های خصوصی زیارتی وسیاحتی مربوط می توانند، بعد از کسب موافقهٔ وزارت، طبق طرزالعمل مربوط از پول تحویل شده به حساب معینه مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ بیست و دوم این مقرره، برداشت و مصرف نمایند.

(۳) وزیر ارشاد، حج و اوقاف یا شخصی که به وی تفویض صلاحیت شده می تواند در روشنی اسناد تقنینی نافذ کشور و با نظرداشت مصالح حجاج، پول خدماتی حج را به مصرف برساند.

(۴) مصارف خدماتی درکشور عربستان سعودی به اساس ضرورت و با نظرداشت شرایط وحالات مخصوص همان کشور از طریق رئیس عمومی بعثه اجراء می گردد.

(۵) مصارف از قبل سنجش ناشده و مصارف متفرقه با نظرداشت مصالح حجاج در داخل و خارج کشور از



created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

خدماتي پيسو له سر جمع څخه اجراء کېږي.

(۶) د دايمي او موسمي دفترونو کرايه او د هغــو لګښــتونه، د حجــاجو د مجتمعاتو د ودانولو، ترميم او تجهيز، د کـــاري کميټـــو، ځـــايي (محلـــي) کارکوونکومعاش، استوونکو هيئتونو او په حرمينو شريفينو کې د بعثې د مېلمنو او مستحقو اشخاصو، حـــق الزحمـــه، اعاشه، مساعدت او هڅونه د حج لـــه خدماتي پيسو څخه اجراء کېږي.

## د قراردادونوعقدول

### څلېريشتمه ماده:

د حج د پروسې په اړه قراردادونه، په هېواد کې دننه د نافذو قوانينـــو لـــه حکمونو سره ســـم عقـــدېږي او پـــه ســـعودي عربســـتان هېـــواد کـــې د قراردادونو عقد له اړوند تعامل ســـره سم، صورت مومي.

## د اجناسو او شيانو حمل او واردول

### پنځه ويشتمه ماده:

د حج، عمرې او زيـــارتونو تلـــونکي

ســـرجمع پـــول خـــدماتي اجـــراء مى گردد.

(۶) کرايه دفاتر دائمـــی و موســـمی ومصارف آن، اعمار، ترميم و تجهيـــز مجتمعات حجاج، معـــاش کارکنـــان محلی، حق الزحمه، اعاشه، مساعدت و تشويق کميتۀ های کاری، کارکنـــان محلی، هيئت های اعزامی و مهمانـــان بعثه در حرمين شـــريفين و اشـــخاص مستحق از پول خدماتی حج، اجـــراء مى گردد.

## عقد قرار داد ها

### مادۀ بيست و چهارم:

قرار داد ها در رابطه به پروسه حج در داخل کشور مطابق احکام قوانين نافذ عقد مى گردد و عقد قـــرار داد هـــا در کشور عربستان سعودی مطـــابق تعامـــل مربـــوط، صـــورت مى گيرد.

## حمل وتوريد اشياواجناس

### مادۀ بيست و پنجم:

عـــازمين حـــج، عمـــره و زيـــارات



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

کولای شي د خپلې اړتیا وړ شــیان او اجناس، د مالیې وزارت او هوایي چلند د اداري او کوربه هېــواد د مقرراتــو مطابق له ځــان ســره حمــل او وارد کړي.

## له سفر څخه پاتې کېدل او یا د هغهٔ په بهیر کې فوت کېدل

**شپږویشتمه ماده:**

که چېرې یو شخص د ځینو معاذیرو له امله د حج، عمرې او زیــارتونو لــه سفرڅخه پاتې شي او یا د ســفر پــه بهیرکې فوت شي، د خدماتي لګښتونوله وضع کولو وروسته، د ســندونو لــه مخې،له اړوندې کړنلارې سره سم،پاتې پیسې، هغهٔ یا یې ورثې ته مستردېږي.

## د لایحو او کړنلارو وضع کول

**اوو ویشتمه ماده:**

وزارت کولای شي، ددې مقــررې د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، لایحې او کړنلارې وضع کړي.

می تواننــد اشــیا و اجنــاس مــورد نیــاز خــود را طبــق مقــررات وزارت مالیــه و ادارهٔ هوانــوردی ملکی وکشــور هــای میزبــان بــا خود حمل وتورید نمایند.

## بازماندن ازسفر و یــا فــوت در جریان آن

**مادهٔ بیست و ششم:**

هرگاه شخصی بنابر معاذیری از ســفر حج، عمره و زیارات بازماند و یــا در جریان سفر فوت گردد بعداز وضــع مصارف خــدماتی برویــت اسـناد طبق طرزالعمل مربوط، پول باقیمانده بــه وی یاورثــه آن مســترد می گردد.

## وضع لوایح وطرزالعمل ها

**مادهٔ بیست و هفتم:**

وزارت می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره ، لوایح، طرزالعمل ها و رهنمود ها را وضع نماید.



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

**انفاذ**

**اته ویشتمه ماده:**

**دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذه او په نافذېدو سره یې د ۱۳٦۱ کال په (۵۰۵) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې د حج، عمرې او د کربلا د زیارتونو مقرره ملغي کېږي.**

**انفاذ**

**مادهٔ بیست و هشتم:**

**این مقرره از تاریخ نشر در جریده رسمی نافذ و با انفاذ آن، مقررهٔ حج، عمره و زیارات کربلا منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۵۰۵) سال ۱۳٦۱ ملغی می گردد.**



created with nitroPDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

## اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :          (۹۰۰) افغـــــانی**

**بــــرای مــــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:          (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

## Regulation on Management of Hajjis Affairs, Omra pilgrimage and Shrine visitors

**Date:25th March.2017**
**ISSUE NO:(1253)**

created with nitro PDF professional
download the free trial online at nitropdf.com/professional